United Nations Nations Unies

UNITED NAITONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN
UNAMA

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا**
**د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر ۲۹مه**

**د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړی استازی**
**کای آیډا**

ښاغلی رئیس، بې له شکه دا په افغانستان کې او د افغانستان لپاره د پرېکړو وخت دی. په راتلونکو څو اوونیو کې به یو شمېر مهمې پرېکړې وشي، چې دا پرېکړې به په ګډه د هغې شخړې د پای ته رسولو لپاره د بریا امکانات مشخص کړي چې په وروستیو میاشتو کې لا پسې سخته شوې ده.

اجازه راکړئ د دغو پرېکړو له ډلې د څو هغو یادونه وکړم:

ډېر ژر به د اګست د شلمې نېټې د ولسمشریزو ټاکنو وروستۍ پایلې معلومې او بیا به تائید شي.

وروسته به راتلونکی ولسمشر د خپل نوي حکومت د جوړښت او د راتلونکو کلونو لپاره د خپلې د کاري اجنډا په اړه پرېکړه وکړي.

له هغو پرېکړو څخه چې حکومت یې باید وکړي، یوه دا ده چې د سولې او پخلاینې بهیر څنګه پیل شي.

د نړیوالو او افغان امنیتي ځواکونو د راتلونکې کچې او جوړښت په اړه هم باید پرېکړې وشي.

همدارنګه د نړیوالو پراختیایي مرستو د لومړیتوبونو او وېش په اړه هم باید پرېکړې وشي.

د دغو مهمو پرېکړو په وړاندې باید په ټینګار سره ووایم چې د پخوا په څېر د هماغه کار دوام نور هېڅ انتخاب نه دی. موږ باید خپل ذهنیت بدل کړو. هغه څه چې ترسره کول یې اړین دي، په بنسټیز ډول نوي نه دي او ډېره برخه یې څو څو ځله ویل شوې، لیکل شوې او آن په نړیوالو کنفرانسونو کې پرې په رسمي ډول هوکړه شوې؛ خو عملي شوې نه ده. که عملي شي، پر حقیقي وضعیت به ستر اغېز ولري. خو که له سختو پرېکړو کولو ډډه وکړو، نو عمومي وضعیت به لا پسې خراب شي.

لومړی، ټاکنې. هو، د ټاکنیزو چارواکو، نوماندانو او د هغوی د پلویانو، او همدارنګه د حکومتي چارواکو له خوا درغلۍ او بې نظمۍ شوې دي. په ټاکنو کې ګډون کمرنګه و، نږدې د اروپایي پارلمان د ټاکنو په کچه. خو افغانستان په جګړه کې ښکېل هېواد دی او د رأیې ورکولو مرکزونو ته په ورتګ کې د خلکو د وېرولو لپاره اوږد او شدید ګواښوونکی کمپاین روان و. له ۲۰۰۲ کال راهیسې په هېڅ یوه ورځ دومره امنیتي پېښې نه وې شوې لکه د اګست په شلمه نېټه چې وشوې. خو سره له دې، د پخوانیو ټاکنو په پرتله زیات مرکزونه پرانیستل شول. امنیتي ځواکونو او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رأیې ورکوونکو د لاسرسي لپاره خپل ټول توان وکاراوه. دا کار په داسې هېواد کې وشو چې نه یوازې په جګړه کې دی، بلکې کمزورې زېربناوې، کمزورې بنسټونه او په زیاته کچه نالوستي وګړي لري، او خلک له داسې رای پاڼې سره مخ وو چې ۴۱ د ولسمشرۍ نوماندان پکې وو.

خو غواړم پر څو مثبتو ټکو هم ټينګار وکړم چې اوس داسې ښکاري نږدې هېر شوي دي. انتخاباتي کمپاين د داسې پراخ ولسي ګډون شاهد و چې افغانستان پخوا هېڅکله نه و ليدلی. د سياسي بديلونو ترمنځ رښتينې بحث وشو، داسې يو بحث چې دې هېواد کې مخکې تجربه شوی نه و. زما په آند، دغه پياوړی ولسي ګډون دا ثابتوي چې افغانانو دا ټاکنې غوښتلې او غوښتل يې د دې هېواد ډيموکراتيک بهير دوام ومومي.

دوه اوونۍ مخکې ډېرو خلکو فکر کاوه چې موږ د سقوط پر غاړه ولاړ يو، خو دې بهير په خپل حال دوام وموند. د ټاکنو خپلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون په وروستۍ مرحله کې ګډ کار کړی دی. له بهر څخه د راغلو متخصصانو په مرسته د درغليو د کچې او وروستيو پايلو د معلومولو لپاره د پلټنې پر يوه بهير هوکړه شوې ده. اوس به د رأيو صندوقونه کابل ته راوړل شي څو وروستۍ پلټنه ترسره شي. دا بهير به هر پړاو کې له نړيوالو معيارونو سره سم پر مخ ځي او په نورو پېچلو ټاکنو کې هم کارول شوی. دا به موږ ته د باوري او مشروع پايلو امکان هم رامنځته کړي. په ورته وخت کې به د پلټنې دغه کړنلاره د وروستيو پايلو په لنډ وخت کې معلومولو زمينه برابره کړي. دا مانا لري چې که دويم پړاو ته اړتيا وي، د ژمي له رارسېدو مخکې به تنظيم شي او اوږدې سياسي تشې او بې ثباتۍ مخه به ونيول شي. موږ د ټاکنيزو بهيرونو او ارقامو له خورا باتجربه متخصصانو څخه مرسته ترلاسه کړې، سربېره پر هغو غوره کسانو چې د ټول بهير په اوږدو کې په ساحه کې وو.

د ټاکنيزو شکايتونو د کمېسيون پر وړاندې پرته ننګونه به دا وي چې جعلي رأيې وپېژني او رد يې کړي، خو ورسره هغه رأيې ورکوونکي له خپل حق څخه محروم نه کړي چې په ښه نيت او د افغانستان په فرهنګي چاپېريال کې يې رأيه ورکړې؛ داسې چاپېريال چې ګڼو خلکو پخوا رای‌پاڼه نه وه ليدلې يا يې قلم نه و کارولی.

کله چې وروستۍ پايله تائيد شي، نوماندان او د هغوی پلويان بايد درناوی ورته وکړي. د افغانانو غوڅ اکثريت اوس غواړي چې دا بهير پای ته ورسېږي، حکومت جوړ شي او د هغوی ژوند ښه شي.

وروسته به راتلونکی افغان ولسمشر مهمې پرېکړې وکړي. تر هر څه وړاندې به داسې حکومت ټاکي چې خلکو ته الهام ورکړي او باور يې خپل کړي. دا به نړيوالې ټولنې ته لومړنی مهم او اړين پيغام هم وي او د مرستندويو او سرتېرو ورکوونکو هېوادونو د خلکو ژمنتيا به لا پياوړې کړي. په داسې وخت کې چې په نړيواله ټولنه کې د افغانستان په اړه بحث مخ په زياتېدو دی، دا ډول پيغام حياتي اهميت لري.

سربېره پر دې، نور نشو کولای د تېرو وختونو جګړه مارانو او زورواکو او د هغوی د ټوټه کولو سياست ته اجازه ورکړو چې د راتلونکي بنسټونه ککړ کړي. موږ د موخې يووالي او د مسؤليت شريکولو ته اړتيا لرو، هغه څه چې تر اوسه کم وو. د تېرو ټوټه کوونکو ځواکونو نفوذ په يوه شپه کې له منځه نه ځي. دغه ځواکونه هم بايد پوه شي چې په پراخېدونکې او سختېدونکې جګړه کې ترې تمه کېږي چې له وېشونکو سياستونو او شخصي ګټو شاته شي. سيمه ييز او محلي زورواکي بايد پرېښښودل شي چې د يوه منسجم افغانستان د جوړولو هڅو پر وړاندې خنډ وګرځي او ياغيانو ته د ګټې اخيستنې فرصت برابر کړي. نړيواله ټولنه په دې برخه کې مهم رول لري. د دې پر ځای چې هغو کسانو ته امتياز ورکړو يا يې شتمن کړو چې په غير ډيموکراتيکو او ناقانونه لارو د حکومت مخالفت کوي، بايد روښانه کړو چې د موخې د يووالي بل بديل څنډې ته کېدل دي.

د راتلونکي ولسمشر دويمه ننګونه به داسې اجنډا جوړول وي چې په رښتينې توګه د خلکو اندېښنو ته ځواب ووايي. په ولايتونو او ولسواليو کې ښه حکومتولي، د فساد پر ضد پراخه مبارزه، د قانون حاکميت ته زيات درناوی، د معافيت د کلتور ختمول او د ټولنيز او اقتصادي عدالت وده بايد د دې اجنډا مهمې برخې وي. د افغان حکومت او خلکو ترمنځ نوي "تړون" ته اړتيا ده. دغه تړون به له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې د نوې ژمنتيا بنسټ وي.

له ما ډېری وخت پوښتنه کېږي چې ايا زموږ مرستې بايد مشروطې وي. زما په آند، په اوس مهال کې شرطونه شته؛ د مرستندويو او سرتېرو ورکوونکو هېوادونو پرېکړې د سرمشريزو، حکومتي غونډو يا حتی د امنيت شورا د دې مېز تر شا نه کېږي، بلکې د

پخلنځیو او ناستې خونو د مېزونو تر شا کېږي، هلته چې عامه افکار جوړېږي. د ولسي ملاتړ ځواک د افغان حکومت پر چمتووالي پورې تړلی چې د خپلو خلکو اندېښنې درک کړي. راتلونکی افغان حکومت باید پر دې هم پوه شي.

نړیواله ټولنه هم باید مهمې پرېکړې وکړي. په امنیتي برخه کې جنرال مک‌کریسټل خپله ارزونه وړاندې کړې ده. دا روښانه، صریحه او غوښتونکې ارزونه ده. د هغه اصلي موضوعات دا دي چې عملیاتي فرهنګ باید بدل شي، خلکو ته باید نږدې شو، د هڅو یووالی ښه شي، سرچینې متمرکزې شي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو اغېزمنتیا لوړه شي. زه د هغه د ارزونې، په ځانګړي ډول فرهنګي حساسیت ته د ټینګار او په ګڼو سیمو کې له خلکو سره د مختلف ډول اړیکې د رامنځته کولو د اړتیا هرکلی کوم.

زه نه غواړم د نورو نړیوالو جنګي ځواکونو د اړتیا پر بحث تبصره وکړم، خو غواړم اوږدمهاله لید ته اشاره وکړم. موږ د افغان اردو او پولیسو د ځواک او وړتیا لوړولو پر اړتیا موافق یو.

د افغان اردو شمېر زیاتول له مهالوېش مخکې دي او ښایي د اصلي پلان د ۲۰۱۲ کال پر ځای د راتلونکي کال تر اکتوبر پورې ۱۳۴ زرو ته ورسېږي. دا ښه خبره ده. په ورپسې کلونو کې به نور د پام وړ زیاتوالی هم اړین وي. خو که اردو پراخ مسؤلیت واخلي او خپلواک عملیات وکړي، یوازې شمېر بسنه نه کوي. د تجهیزاتو او وسلو د برابرولو په اړه باید ژر پرېکړې وشي. په ساحه کې د روزنې او لارښوونې لپاره نور نړیوال سرتېري هم اړین دي.

د افغان پولیسو وضعیت هم همداسې دی. د پولیسو شمېر شاوخوا ۱۴۰ زرو ته د لوړولو پرېکړه باید د کال تر پایه وشي. خو بیا هم یوازې شمېر مهم نه دی. د افغان پولیسو له لیکو څخه د تېښتې کچه له ۲۰ تر ۲۵ سلنه ده. دا د غوره روزنې، ښه تجهیزاتو او لا زیاتو هڅونو اړتیا څرګندوي.

دا ټول، یعنې د افغان اردو او پولیسو روزنه، لارښوونه او تجهیز، یوازې د امریکا هڅه نشي کېدای. پراخ نړیوال ګډون ته اړتیا ده. له همدې امله له نورو مرسته کوونکو هېوادونو څخه په کلکه غوښتنه کوم چې د بشري ځواک او مالي سرچینو په برخه کې خپلې هڅې زیاتې کړي. درې ساعته مخکې مې هم د اروپايي ټولنې د دفاع وزیرانو ته، د سویډن له ناستې سره د ویډیویي اړیکې له لارې، همدا غوښتنه وکړه.

په ملکي برخه کې دوه عمده برخې وینم چې باید بېړنی لومړیتوب ورکړل شي.

لومړی د بنسټونو جوړونه ده. که افغان حکومت غواړي له خپلو خلکو سره غوره اړیکه ولري، یوه ستره بنسټ جوړوونکې برنامه اړینه ده، چې مخکې مې هم ویلي. دا په پنځو برخو وېشل کېدای شي:

د اوسنیو او راتلونکو ملکي مامورینو روزنه او زده کړه. بنسټیز چوکاټونه شته، خو باید پراخ شي. نن ۲۵ سلنه ولسوالان یا بې تعلیمه دي یا یوازې لومړنۍ زده کړې لري.

د سیمه ییزو زېربناوو جوړول. نن نیمايي ولسوالان دفتر نه لري؛ دوه پر درېیمه برېښنا نه لري او یو پر درېیمه برخه یې نقلیه وسایط نه لري.

د معلوماتي ټکنالوژۍ داسې شبکه جوړول چې والیان او ولسوالان کابل کې له خپلو ادارو او د افغانستان له ملي پراختیايي پلانونو سره ونښلوي.

د هڅونو پیاوړي کول. کله چې یو ولسوال په میاشت کې ۶۰ ډالر معاش اخلي، خطرناکو ولسوالیو ته د وړ کسانو جذبول ستونزمنېږي.

د وړتیا پر بنسټ ګمارنو او حساب ورکونې باندې پیاوړی ټینګار.

حکومت باید د فساد پر ضد د مبارزې او د خپلو بنسټونو د پیاوړتیا لپاره چمتووالی وښیي. خو د اغېزناکې او حساب ورکوونکې حکومتولۍ د جوړولو مسؤلیت ګډ دی. یادې نیمګړتیاوې د ستونزې پېچلتیا څرګندوي او ښيي چې د پرمختګ د چټکتیا په اړه باید واقعبینانه تمې ولرو.

زموږ دویم لومړیتوب دوامداره اقتصادي پرمختګ دی. زه په نړیواله ټولنه کې مخ پر زیاتېدونکې بېصبرې او د شویو قربانیو او لګول شویو سرچینو په بدل کې د پایلو د ښودلو اړتیا درک کوم. خو دا حالت باید د پراختیایي فعالیتونو په برخه کې د چټکو اغېزو د پایلو لپاره پر بېړني فشار بدل نشي. که داسې وشي، موږ به له هغه څه نور هم واټن واخلو چې د دوامداره اقتصادي پرمختګ لپاره اړین دي، څو افغانستان په تدریجي ډول پر خپلو سرچینو تکیه وکړي.

موږ دوه بعدي تګلارې ته اړتیا لرو: په جګړه ځپلو سیمو کې عملي کېدونکې پروژې چې د خلکو د ژوند کیفیت په ښکاره لوړ کړي؛ او د هېواد په باثباته برخو کې د ودې پر محرکونو ولاړې اوږدمهالې پروژې، چې عواید زیات او پر بهرنیو مرستو تکیه ورو ورو کمه کړي. اوسنی انډول ناسم دی؛ اوږدمهالې پانګونې ته ډېرې لږې سرچینې او پاملرنه ورکول کېږي او که همداسې دوام وکړي، په څو کلونو کې به زموږ ډېری اوسني فعالیتونه د دوام او پایښت وړ نه وي.

په تېربېست کې د اتو سترو هېوادونو په غونډه کې مې د حکومت او ملګرو ملتونو په استازیتوب د سترو زېربنایي پروژو وړاندیزونه وړاندې کړل: د اورګاډې پټلۍ او د برېښنا شبکه، چې په لنډ مهال کې به زرګونو افغانانو ته د کار زمینه برابره کړي او په اوږد مهال کې به افغانستان وکولای شي خپلې بډایه کانې سرچینې، په ځانګړي ډول د اوسپنې پراخې زېرمې، وکاروي. دا پروژې به خصوصي سکتور وهڅوي او د هېواد په مهمو برخو کې به د ودې محرک رامنځته کړي.

په دې برخه کې د افغانستان فکر زموږ تر فکر پرمختللی دی. د روانې میاشتې په پیل کې په پاریس کې د ځانګړو استازو په غونډه کې مې هغه مقاله ووېشله چې د مالیې وزارت او ملګرو ملتونو جوړه کړې وه او د افغان حکومت د هڅو او اقتصادي پرمختیا ته د هغه د تګلارې د بیا ترتیب وړاندیز پکې شوی و. د اوو سکتوري بینالوزارتي کمېټو پر ځای درې اصلي کلسترونه وړاندیز شوي: کرنه او کلیوالي پراختیا، د بشري سرچینو پراختیا، او زېربناوې او اقتصادي وده. دا د وزارتونو ترمنځ له بېلومړیتوبه سیالۍ څخه د دوامدارې اقتصادي ودې ستراتیژیکې تګلارې ته بنسټیز بدلون دی. هیله لرم موږ هم دا تعقیب کړو، څکه زموږ د مرستو ادارې پروسې نن ډېرې سختې دي او نوو او غوره پالیسیو پر وړاندې د بدلون وړتیا نه لري.

په پای کې، ما په پیل کې وویل چې نوی حکومت باید د سولې او پخلاینې برنامه جوړه او تصویب کړي. ځینې، په ځانګړي ډول په نړیواله ټولنه کې، د دغې برنامې څخه جلا د بېرته یوځای کېدو د بهیر خبره کوي. په دې برخه کې د احتیاط کولو غوښته کوم. لومړی، هر نوم چې دې هڅې ته ورکول کېږي، باید د افغان حکومت تر مشرۍ او د نړیوالې ټولنې په ملاتړ وي. دویم، د سخت دریځو طالبانو او هغو "منځلارو" ترمنځ توپیر چې ګواکې په پیسو راجلبېدای شي، ډېر ساده په پام کې نیول دي. باید ښه وڅېړو چې څوک بلواګري کوي. هو، نه پخلا کېدونکي یاغیان شته، او داسې کسان هم شته چې د مالي دلایلو له امله ورسره یوځای شوي. خو ډېر کسان څکه ورسره یوځای شوي چې ځانونه له سیاسي او ټولنیز ژوند څخه بې برخې ګڼي. دا سیاسي بهیر، پراخ ګډون او پیاوړی عدلي او قضایي نظام غواړي. له یوې سیمې تر بلې مهم توپیرونه شته. بلواګري څو علتي مسئله ده او باید همداسې ورسره چلند وشي. ساده نسخې کار نه ورکوي. نړیواله ټولنه ملاتړ کوونکی رول لوبولی شي او باید یې ولوبوي، خو افغانانو ته دې پرېښودل شي چې د مخکې تګ لاره دوی ځان ته خپله وټاکي.

ښاغلی رئیس، د افغانستان په اړه د نوي نړیوال کنفرانس غوښتنې شوې دي او زه یې ملاتړ کوم. خو که امنیت اجازه ورکړي، زما په نظر لومړی کنفرانس باید په کابل کې وشي. په کابل کې د وزیرانو په کچه او د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ په منل شوي چوکاټ کې کنفرانس به پیاوړی سیاسي پیغام وي او وبه ښيي چې موږ د لېږد ستراتیژۍ ته داخلېږو؛ هلته چې اصلي تمرکز د افغان خلکو او حکومت ترمنځ پر "تړون" وي، افغان حکومت د هېواد د راتلونکې لپاره پراخ مسؤلیت واخلي او نړیواله ټولنه په

تدریجي ډول ملاتړ کوونکي رول ته ولاړه شي. دغه کنفرانس به د نوي حکومت پر برنامې ولاړ وي او نړیوال ملاتړ به ورته برابر کړي.

خو زما په نظر لرم د یو لوی کنفرانس جوړول هم په پام کې ونیسو څو په پراخه مانا د راتلونکو کلونو لپاره زموږ د مشارکت موخې وټاکي؛ داسې موخې چې هم لوړې وي او هم واقع‌بینانه او عملي، او د دوه اړخیزې اوږدمهالې ژمنتیا لپاره نوې لارنقشه برابره کړي. دا به د افغانستان د ترون له لاسلیک څلور کاله وروسته وي. کنفرانس باید پر هغو موضوعاتو متمرکز وي چې ما یې یادونه وکړه: د حکومت توان چې د یوه خپلواک دولت بشپړ مسؤلیتونه واخلي، د ادارو جوړونه، اقتصادي پرمختګ، د سولې او پخلاینې بهیر او په سیمه کې د افغانستان راتلونکی موقف. دا به زموږ د اړیکو د یوه پړاو پای او د بل پیل وټاکي.

تر پای مخکې غواړم څو مثبت خبرونه یاد کړم چې ډېر پام ورته نه دی شوی، خو مهم دي:

لومړی، سږکال د کوکنارو د کښت ساحه ۲۲ سلنه کمه شوې، چې په هلمند ولایت کې لوی کمښت هم پکې شامل دی. د تولید اندازه ۱۰ سلنه راکمه شوې او له کوکنارو څخه پاکو ولایتونو شمېر له ۱۸ څخه ۲۰ ته لوړ شوی دی.

دویم، په اګست کې ځوان محصل پرویز کمبخش، چې د قرآن کریم د تفسیر اړوند مطالبو راښکته کولو له امله د اعدام سزا ورکړل شوې وه، د بشري نورمونو له مخې د ولسمشر له خوا وبښل شو. دې قضیې د نړیوالو پام ځان ته را اړولی و او نوموړی اوس ازاد دی.

دریم، د ملګرو ملتونو د سولې ورځې د کمپاین په ترځ کې ۱،۲ میلیونه ماشومانو ته د پولیو واکسین ورکړل شول. یوازې ۳ سلنه هدف ټاکل شوو ماشومانو ته دغه واکسین ونه رسېدل، چې اصلي لامل یې روانې جګړې وې. د ټولو، د طالبانو په ګډون، د همکارۍ له امله هغو سیمو ته لاسرسی وشو چې په تېرو کلونو کې ورته لاسرسی نه کېده. زموږ لپاره په عملي ساحه کې دا مهم مثبت خبر دی، او تر ټولو زیات د هغو ماشومانو لپاره چې ژوند یې ژغورل کېدای شي.

په پای کې، تاسو په روانه میاشت کې د امنیت شورا د ۱۸۶۸ پرېکړه‌لیک له لارښوونې سره سم یو لړ معیارونه ترلاسه کړي دي. دا معیارونه په کابل کې له دې بحث وروسته جوړ شول چې ایا یوازې یوناما پورې ځانګړي وي که عمومي بڼه ولري. په دویم انتخاب اجماع وشوه او دا لومړی هڅه ده او د دې مېز او کابل د بحثونو په رڼا کې به نوره هم ښه او کره شي.

زما په باور، ملګرو ملتونو له خپل ماموریت سره سم خپلې هڅې، په ځانګړي ډول د سیاسي او پراختیایي مسائلو په همغږۍ کې، پراخې کړې دي. دا کار به دوام ومومي. زموږ موخه په ټول هېواد کې لا پراخ حضور دی او اراده لرم په راتلونکو میاشتو کې څلور نوي دفترونه پرانیزم. د پراختیا او حکومتولۍ په برخو کې پیاوړې همغږۍ ته هم اړتیا شته. له همدې امله مې د راتلونکي کال په بودیجه کې د لا زیاتو سرچینو او امکاناتو غوښتنه کړې، څو ماموریت په بشپړه توګه عملي شي. خو لکه مخکې چې مې وویل، مسئله یوازې د کارکوونکو شمېر نه دی. موږ تخصصي پرسونل ته اړتیا لرو چې موندل یې ستونزمن دي. له همدې امله ستاسو د دوامداره ملاتړ او په دې ننګونکي چاپېریال کې د اړینو کسانو په موندلو کې له تاسې د مرستې غوښتنه کوم.

مننه، ښاغلی رئیس.